لیکوال: لوري هونکو

ژباړن: شاه محمود کېوال

# حماسه او هویت

د ۱۹۸۱میلادي کال په وروستیو کې ډنمارکي، فنلنډي، آیسلینډي، ناروېژي او سویډني توکمپوهانو او فولکلورپوهانو په خپل درې کلن شمالي (د اروپا د شمال اړوند) کنفرانس کې د دود د مفهوم تحلیلي ارزښت باندې بحث وړاندې کړ. دا څرګنده شوه چې په کلتوري مطالعاتو کې پورتنۍ کلیدي اصطلاح د اوږدې مودې لپاره په پراخه کچه ناڅرګنده پاتې وه. له دې مفکورې سره د نوې علاقې یو لامل د څېړنې په اقلیم کې د پام وړ بدلون و : په دوديزو ټولنو کې تر مطالعې لاندې خلکو د خپلو کلتوري میراثونو په څېنو برخو کې د اصطلاح کارول پیل کړي وو. په "همغږو څېړونکو" کې د پخوانیو " مخبرینو " خپلواکۍ په علمي چاپېریال کې د "دود" د مانا د سروې کولو اړتیا رامنځته کړه.

په غونډه کې موجودو توکمپوهانو او فولکلورپوهانو موافقه وکړه چې یاده اصطلاح په درېو بېلابېلو لارو کې کارول شوې، لومړۍ: "دود د هغه څه په توګه چې د لېږد په دوامداره بهیر کې سپارل کېږي." دا مانا له درېو څخه لږ تر لږه په زړه پورې وه، ځکه چې دې یوازې خورا عامه ورځنۍ کارونه منعکسوله چې په قاموسونو کې موندل کېدله. داسې ښکارېدله چې په دې کې د تحلیلي ځواک کمی دی، یانې دا په ګټوره لاره کې ستونزه نه وه. دویمه مانا: "دود د هغه څېزونو په توګه چې له هغو څخه کلتورونه رامنځته شوي، هغه چې موږ په خپلو فولکلور ارشیفونو کې زېرمه کړي" ستونزمنه وه، ځکه چې دا پوښتنه یې راپورته کړه چې دود او کلتور څنګه له یو بل سره تړاو لري. دود ته د مادي او نامادي توکو د نا اوډلې او ناڅاپي ټولګې په توګه کتل کېده. درېیمه مانا: دود د ټولنیزې ډلې د استازې په توګه، چې بنسټ یې د ډلې یا بهرني غړې وي د بحث رښتینې هسته ثابته شوه. لکه څنګه چې د [illegible] یو اضافي [illegible] (د ډلې پېژندنه یا هویت) څرګندیزوي." درېیمه مانا په واضح ډول د یوې ډلې یا ګروپ په دودونو کې هغو عناصرو ته اشاره کوي چې د ډلې ځانګړتیا، د هغې شخصیت او احتمالي انفرادیت څرګندوي.

**د "دود"، "کلتور" او "هویت" ترمنځ د کار وېش:**

کنفرانس یوازې د دې توان درلود چې ستونزه بیان کړي. په یوه مقاله کې چې څو کاله وروسته خپره شوه، ما استدلال وکړ چې دا ضعیف اقتصاد دی چې د "دود"، "کلتور" او هویت "پېژندګلوۍ" مفکورې تقریبا د تبادلې وړ دي. د دې کلیدي کلیمو ترمنځ د کار وېش رامنځته کولو په هڅه کې ما پرېکړه وکړه چې یوازې له درېو موجودو ماناوو څخه یوې ته حل ومومم. زما شخصي انتخاب و او اوس هم دویم دی. زما په اند دود په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصل کې یوازې موادو ته اشاره کوي، د کلتوري عناصرو یوې نا منظمې لړۍ ته چې په مختلفو وختونو او شرایطو کې یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې ته چمتو شوې وي. په دې توګه دود به د زېرمتون په څېر ښکاري، یوازې ځینې برخې چې په هر وخت کې کارېږي. نورې برخې په ساده ډول د فعالېدو په تمه دي، د انسان د ذهن په کتابتون کې زېرمه شوي، تل د کارونې او د فعالیت نشتوالي له امله د هېرېدو له ګواښ سره مخ دي.

د "دود" مهم اړخ چې د هغو شیانو په توګه تعریف شوی چې له هغې څخه کلتورونه رامنځته شوي دا دي چې دا د فعال سیستم په توګه بیانولو ته اړتیا نه لري، بلکې دا یو مجموعي وجود دی. د هغې حدود به په ګروپ کې د هر نوي کس له ننوتلو یا وتلو سره بدل شي. دود، په بل عبارت، کلتوري وړتیا یا سرچینې په ګوته کوي، نه د ډلې اصلي کلتور.

زه باید یادونه وکړم چې په ورته وخت کې له شمالي (Nordic) کنفرانس څخه درې کاله وروسته پر دود د پوهېدنې لپاره یو بل بحث د کلتور، دود او پېژندنې (هویت) په اړه د بلومینګټن د انډیانا په پوهنتون کې د امریکا و هنګري کنفرانس جوړ شو. ډان بین اموس په خپله روښانه مقاله کې د امریکایي فولکلور مطالعې کې د "دود" د مانا ډولونه سروې کړل. هغه له اوو مختلفو ماناوو څخه کمې ونه موندلې، د دوی په منځ کې هغه مانا چې زه به لومړیتوب ورکړم، لکه ، "دود د ډلې په توګه." داسې ښکاري چې دا په طبیعي ډول وده شوې مانا ده، چې فولکلورپوهانو اړینه بللې ده.

کلتور په ورته ډول پر ډله ییز مفهوم سربېره په ډېرو بېلابېلو لارو کارول شوی. په هر صورت زما لپاره دا اصطلاح له ډله ییز څخه څه بله پراخه مانا لري: یو سیستم دی چې د عناصرو تنظیم په یوه مدغمه او فعاله ټولګه کې وي. زه له دې وسوسې سره مقاومت کوم چې کلتور د څېرې مفهوم او دود یې په دننه کې یو څه ځانګړې کړي. د کلتور مفهوم تحلیلي ارزښت د دې په سیستمي کارونه کې دی. موږ لیواله نه یو چې دا د منځپانګې له خوا وکاروو، بلکې د فعالیت له مخې یې کاروو، په بل عبارت؛ کلتور په شیانو کې نه دی، بلکې د شیانو د لیدلو، کارولو او د شیانو په اړه په فکر کولو کې دی.

کله چې دود پر کلتور بدل شي، یو څه مهم پېښېږي. د خلکو یوې ډلې ته د مختلفو چینلونو له لارې وړاندیز شوي دودونه ډېر وختونه ناڅاپي عرضه یوه سیستماتیکه ځانګړتیا ترلاسه کوي. د دود ځینې برخې کلتور کېږي؛ دوی دلته او اوس له ټولنې سره تړاو لري.

دوی د خپل ژوند په لاره کې مدغمېږي. د ترتیبولو د هغه بهیر کیلي انتخاب دی. پرته له بدیلونو، د منلو یا رد کولو له احتمال پرته، د ګټو او ارزښتونو سیستمونو کې د موجودو عناصرو له توافق پرته، له ټولنیز کنټرول او تفسیر پرته، هېڅ دود کلتور ته نه شي تېرېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که کلتور دود ته د "ډلې" یا "د موجود عناصــرو زېرمې" په توګه ترتیب وي، د هویت مفهوم په ورته لار کې یو بل ګام اخلي. د دود سیستمیک شخصیت غالب دی، خو دا ډېر مشخص او متمرکز کېږي. د ډله ییز دود یوه برخه بېله شــوې او په کلتوري اړیکو کې د ډلې اســتازیتوب لپاره جوړه شــوې ده. دا دودونه ژبې، جغرافیایي موقعیت، موسیقۍ، نڅا، عرف، معمارۍ، تاریخ، حماسې، رسم او داسې نورو ته اشاره کوي. د انتخاب په دې پروسه او اضافه ټینګار کې بیرغونه، رنګونه او نومونه، د بېلګې په توګه، د شیانو، ځانګړتیاوو او اشخاصو یا ځایونو په نښه کولو څخه ډ ډه کوي. دوی په شعارونو اوړي چې د هدفي ډلې د نښو استازیتوب کوي.

د شیانو انتخاب ممکن عجیب وښکاري، خو دا باید یوازې د بهرنۍ بڼې یا محتویاتو له مخې قضاوت نه وي، ځکه چې هر شـی او چلند تر خپل ځان څخه ډېر دی: دا یوه سـمبولیکه مانا لري. د دې سـمبولونو په شـاوخوا کې د سپېڅلتیا هوا محسوسېږي. دوی مانا او احساسات لري چې د هویت ګروپ د یووالي او د یووالي احساس پراختیا لامل کېږي.

اوس دا ممکنه ده چې د ګروپ پېژندنه د ارزښتونو، سمبولونو او احساساتو د یوې ټولګې په توګه تعریف کړئ چې خلک ســره تړي، د دوامداره خبرو اترو له لارې، د یووالي او تړاو په احســاس کې، په نړۍ کې "زموږ" لپاره ځـای جوړول (همـدارنګه د "زموږ و دوی" توپیرول). د "موږ" کوچنۍ کلمه د دې وړتیا لري چې د ټاکل شــویو ســمبولونو ټولګې تـه مـانیز یووالي ورکړي ، کـه هغه مادي وي یا خیالي نظرونه، څېزونه، کلمې یا عمل. د دې یووالي ډېره برخه ممکن د مانیز جوړجاړي پر اســاس وي ، حتا غلط فهم. په ډېرو ســمبولونو کې ممکن د ډلې غړو یا حتا بهرنیانو لاسـوهنه کړې وي، خو بیا هم د هویت د څرګندتیا په سـیســتم کې د ټاکل شـویو او مدغم شـویو دودیزو عناصـرو ځواک د پام وړ دی. ښایي موږ دوی ته " ارزښتنـاک دود " یا مرکزي دود ووایو چې وښیې دوی د جوړښت او منځپانګې په پرتله پراخه مانا لري.

اجـازه راکړئ هغه څه د یو چارټ په وړاندې کولو ســره لنډ کړم چې ما تر اوســه ویلي دي چې د دود لېږد کولتور او بیا هویت ته څرګندوي یا د دود اوښتنه پر کولتور او بیا هویت راښیي. زه هڅه کوم چې دا مفهومونه له نورو کلیدي کلمو سره وصل کړم، لکه تاریخ، حماسه او سمبول.

(c) ketabton.com: The Digital Library




له بنسي اړخ څخه لومړي دوه کالمونه هغه څه منعکسوي چې یوازې ویل شـوي دي. دریېیم د لاندې لوستلو وړاندیز کوي: لکه څنګه چې بې ځایه تاریخي حقایق کلتوري کېږي، دوی د نړۍ په نظم کې مدغم کېږي او د حماسې په پرتله سپېڅلتیا ترلاسـه کوي او کېدی شـي د هویت نښه کوونکي ته وده ورکړي او یو سمبولیک بار ولري چې له دوی اصلي مانا څخه ډېر وي.

**حماسه د هویت د کیسې په توګه:**

پـه دې میتودولوژیکي جوړښــت کې د حماســو ځای څه دی؟ زه وړاندیز کوم چې دوی ممکن د "پېژندنې کیسې" په توګه مشخصې شي. د هویت سمبولونو سره د پرتلې وړ او هغو ډلو ته د متن بهرنۍ مانا لېږدولی شي چې هغوی یې "خپله کیســه" بولي. بریجټ کونلي د حماســې په اړه لیکي: "د هویت کیســه او په ورته ډول، د بدلون کیســه" یانې حماســه د "موږ" په رامنځته کولو سـره په ورته وخت کې بدلون رامنځته کوي، همدارنګه له نورو ډلو سره توپیر او واټن. یووالی له بدلون پرته ناشونی دی.

حماسې معمولا د ادبي او دودیزو ژانرونو په منځ کې خورا لوړ مقام لري. دا لوی یا ستر داستانونه دي چې د نورو داستانونو په پرتله په اوږدوالي، د بیان ځواک او د محتویاتو وزن کې غوره دي. په هرصورت، د دوی ارزښت د کلتوري شرایطو او فعالیت په پرتله له لفظي منځپانګې څخه لږ ترلاسه کېږي: دوی له متن څخه بهر له یو څه سـره تړلي لیدل کېږي، لکه د ډله ییز هویت په اړه د خلکو احســاس، د ټولنې اصـلي ارزښــتونه، د اتلوال چلند بېلګې او انساني هڅې، د تاریخ او اسطورې سمبولیک جوړښتونه. دا په دې مانا ده چې یو اندازه ستړی کوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تکراري داستان ممکن د يوې ځانګړې ډلې په شعور کې عظمت ترلاسه کړي، چې ځان د هغه په شخصيتونو او پېښو سره پېژني.

په دې توګه د حماسو استقبال د دوی د وجود برخه او جز دی. له ټولنيز تصويب او لږ تر لږه د يوې ډلې له خوا له ثبت شوې لېوالتيا پرته، دا ستونزمن کار دی چې داستان د حماسې په کټګورۍ کې ځای په ځای شي.

يو کوربه چې د حماسې له پوهانو څخه و، د حماسې پېژندنې رغاونيز فعاليت ته اشاره کړې. د يوې بېلګې په توګه، اجازه راکړئ چې د سوسن واډلي وينا راولېږدوم:

حماسې له ټولنې سره ځانګړې اړيکه لري چې دوی په کې رامنځته کېږي: دوی "زموږ کيسه" ده او د ټولنې د پېژندلو له امله له نورو سندرو او کيسو جلا دي. شفاهي حماسې د منظمو نړۍ ليدونو په وړاندوينې سره هغه څه څرګندوي چې نور فولکلوري ژانرونه يې څرګندولی نه شي. څکه ورته حماسې ويل کېږي: دوی د ميوزيک د نابحث شويو بيانونو او د بېلګيزو استعاري جوړښتونو له لارې استدلال نه کوي ، خو بنسټيز واقعيتونه بيانوي.

د پورته ذکر شوې حماسې لنډ تعريف، "يوه عالي او ارزښتناکه کيسه چې په اوږدوالي، د بيان ځواک او د منځپانګې په وزن کې غوره ده " په دې توګه بايد د هغې ټولنې له نظره ولوستل شي چې يې پېژني، مالکيت يې لري او ساتي يې. دا لوستل لږ تر لږه د يوې ځانګړې حماسې د مختلفو کړنو د ټولنيزو او وضعيتي شرايطو په اړه يو ډول پوهه وړاندې کوي. له همدې امله په وروستيو لسيزو کې د ژونديو شفاهي او نيمه ادبي حماسو په اړه تجربوي مطالعات او ساحوي کار ارزښتناک شوی دی. دا ډول څېړنې کېدی شي له موږ سره مرسته وکړي چې يو ځل بيا په هغو حماسو د ښه پوهېدو لپاره بېلګې جوړې کړو چې يوازې د متني شواهدو له لارې پېژندل شوې دي.

**ادبي، نيمه ادبي او شفاهي حماسې:**

د تعريف له مخې به دا ګټوره وي چې د حماسو رنګارنګه نړۍ په ادبي، دوديزو او نړه شفاهي حماسو ووېشل شي. له ادبي حماسو زما مطلب د ليکوال يا شاعر له خوا رامنځته شوي لوی داستانونه دي. يو مثال به د ميلټن ورک شوی جنت (*Paradise Lost*) وي. شکل او جوړښت يې د لوستي شاعر له خوا څرګندېږي او که تر ادب نه مخکې سرچينو او دودونو ته اشاره شوې وي ، دا عناصر د پلاټ يا فورم د انتخاب لارښوونه نه کوي. په لنډه توګه، دوی د حماسې د جوړونکي لپاره ستونزه نه جوړوي. هغه د شته عناصرو ماسټر دی. د دود پر بنسټ د حماسو راټولوونکو لپاره وضعيت توپير لري. لکه اليس لونروت او د فنلنډ کليوالا. دوی ځينې وختونه داسې عناصر شاملوي چې په مانا يې په بشپړ ډول نه پوهېږي. په لنډه توګه، په داسې حال کې چې شفاهي شاعري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادبي حماسې لپاره يوازې انعطاف وړ مواد دي، دا خپل اسرار او شاعرانه مفکوره د دود پر بنسټ حماسې لپاره ساتي، که څه هم په حقيقت کې له يو راټولونکي څخه بل ته توپير لري.

له نړه شفاهي حماسو زما مطلب د اوږدو حماسي شعرونو يا نثري داستانونو څخه دی چې په شفاهي دود کې ژوند کوي يا يې کړی دی. د هر يو داسې شعر يو شمېر نسخې په عادي توګه شته او معمولا ناشونې ده چې د نسخو په منځ کې يوه اصلي کاپي په ګوته شي، يوه واحده نسخه چې د اصليت له مخې پر نورو غالبه وي. دوی د نالوستو سندرغاړو په ذهنونو کې د "ذهني متنونو" په توګه ژوندي پاتې کېږي او ممکن له سمون پروسې هم تېرېږي. دا هغه ځای نه دی چې ټولې انتقالي بڼې د نړه شفاهي او نيمه ادبي يا نږدې ادبي حماسې ترمنځ تشريح کړي. کېدی شي دا ووايو چې دوی ډېر دي او د دوی پېژندنه هم نامتني (له متن بهر) شواهدو ته اړتيا لري.

**شفاهي حماسې د عمومي او سيمه ييزو هويتونو د لېږدوونکو په توګه:**

مخکې تر دې چې يو څوک وکولای شي د ټولنيزو ډلو او ټولنو پېژندلو سره د يوې شفاهي حماسې د فعاليت اړيکه رامنځته کړي ، ښه متني معلومات او ځينې تجربي پلټنې اړينې دي. ستونزه پېچلې ده، ځکه چې يوه ډله يا د هغې ځينې غړي ممکن د فعاليت لپاره مسوول وي، په داسې حال کې چې د پام وړ حماسې بله ډله "مالک" کوي يا ځان ورسره پېژني. د مالکيت ادعاوې او د لوبغاړو او ليدونکو له خوا وړانديز شوي نظرونه ممکن مهمې نښې وړاندې کړي، خو کله ناکله د يوې ډلې د هويت د بيان او حماسې ترمنځ اړيکه پټه پاتې وي. د پرمختګ غوره لاره دا ده چې د "حقيقي ټولنې" په لټه کې شي، هغه ډله چې د نورو په پرتله حماسه ډېره جدي نيسي او د هغې ټولنيز اصل، رتبه، د ځينو حقونو او دندو مشروعيت يا اخلاق د داستان له محتوياتو او تعليماتو ترلاسه کوي.

دا داسې مانا کېدی شي چې د نورو شيانو په منځ کې يو او ورته داستان د يوې ټولنې لپاره يوه حماسه جوړوي، خو د بلې لپاره بل څه. ( د سټوارټ بليک برن او جويس فلوکيګر په وينا)

"ورته" داستان، حتا په ورته سټايلونو کې ترسره کېږي، په دې توګه کېدی شي په يوه ټولنه کې حماسه او په بله کې نه وي. د مثال په توګه، د ډهولا دود د يو اوږد، سندريز داستان په توګه د اتراپرديش په شمالي ميدان او د هند په مرکزي سيمه چټيسګر کې ترسره کېږي. په اتراپرديش کې دا يو حماسي دود دی، په داسې حال کې چې د چټيسګاري هنرمندان او ليدونکي دا د ريښتينې کيسې يا داسې کيسې په توګه نه درک کوي چې په ځانګړې توګه د دوی په ټولنه کې پېژندل شوې اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـوسـن واډلي د ډولا په اړه يو څه جلا نظر څرګندوي. حتا کله چې دا حماسـه د سـاتيرۍ په توګه ترسـره کېږي، دا " په بنسـتيز کلتوري کټګورۍ پورې اړه لري ". دا ممکنه ده چې اسـتدلال وکړو چې يو متن چې د حماسـې محتوايي او فعاليتي ځانګړتياوې سـاتي، تفريحي فعاليت ته د تګ په وخت هم خپل ځينې ربښـتيني ارزښـتونه سـاتي. زه د سـويلي کرناټکا په کرنيزو نندارتونو کې د بوتا د حماسـو د ترسـره کېدو شـاهد يم چې د کرشـي ميله، يې بولي. کله چې بوتا د دريځ پر سر د ډېرو لېدونکو پر وړاندې په ډله ييز حرکت کې لړ ونڅېږي، نڅا يې له ځای او شـرايطو څخه په بشـپړ ډول بهر ده. بيا هم زه ډاډه نه يم چې ايا ډېرى ليدونکي احسـاسـوي چې دا په حقيقت کې مېلې نه د يو ديوتا يو ډول ليدنه ده. سـربېره پردې، تفريح "نړه" تفريح نه ده، خو کېدی شـي د نسـبتاً جدي، روحي لټون پوښتنو او ځوابونو ځانګړتياوې په اسانۍ سره ترلاسه کړي. که تفريح له زماني او مکاني اړخه د مهمو فعاليتونو لکه ښکار، سفر او داسې نورو سره ګډه وګڼل شي، دا ممکن په يو پټ رسم بدل شي چې ارزښتي اړخ يې اصلي مفهوم ته ځي.

که څه هم په ټولنيزه کچه، زه فکر کوم چې په سخته مانا کې د يوې فعالې اصطلاح په توګه د حماسې ليدل ښه دي او په دې توګه فکر کوم چې لږ تر لږه يوه ډله او يو حالت بايد وي چې دا د حقايقو عالي سندره کېږي او په مستقيم ډول د ډلې له هويت سره تړاو لري. د دې په ويلو سره زه دا هم اړين ګڼم چې د حماسې په کټګورۍ کې يو ځای د داسـتانونو لپاره خوندي کړم چې رسـمي معيارونه پوره کړي، خو تر اوسه ترې د ډله ييز هويت په اړه د حماسـي فعاليت ترسـره کول ثابت شـوي نه دي. د اصطلاح په دې پراخه استعمال کې به هغه متنونه هم شـامل وي چې دا فعاليت يې له لاسه ورکړی وي، خو ممکن په مناسبو شرايطو کې يې ترلاسه کړي او د ژانر په اړه به په پرتليزه څېړنه کې يو بل اړخ ډېر کړي. دا بايد په پام کې ونيول شي هغه وخت چې يو وېروونکی داستان ثبتېږي او د يوې ځانګړې ډلې لپاره د ريښـتينې سـندرې په توګه بدلېږي، د دودونو تطبيق بايد ترسـره شـي. کيسه بايد له فزيکي چاپېريال او د ډلې ذهني دود ـ ښې دواړو سره سمون ولري. دا بايد د دې وړتيا ولري چې محلي ايډيالونه، غالب ارزښتونه، ټولنيز اقتصادي جوړښتونه او د اصلي ليدونکو ترمنځ ټولنيز پوړ و رتبه منعکس کړي.حتـا کـه د يوه حمـاسـي فعـاليت ليدونکي له مخلوط طبيعت څخه وي، نه يوازې له مومنانو څخه، بلکې شـکمن، يوازې ليدونکي او تېرېدوونکي، يو اصـلي ليدونکي شـته چې پيغام يې لارښـوونه کوي. له دې نظره، د ويلچرو نارياڼا راو د شپږو تيلوګو (Telugu) ولسي حماسو د تحليل پايله روښانه ده.

په دې مقاله کې شـپږ ازمويل شـوې حماسـې هر يو "اتل" لري چې له مرګ څخه يې سـرغړونه وکړه. په هرصـورت، د سـرغړونې طريقه هغه څه دي چې دا ممکنوي حماسـې پر پوځي او قرباني ډولونو ووېشل شي. دا چې هره يوه حماسـه خپل ليدونکي / برخوال لري دا زموږ لپاره اړينوي چې داسـتان د ملاتړې ټولنې له ژوند او کلتور سـره تړاو ولري. له شـواهدو داسې ښکاري چې د ټولنې ټولنيزو اقتصادي ځانګړتياوو د اتلولۍ پر طبيعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه د کیسې پر ایډیالوژیکي لړۍ اغېزه کړې ده. داستانونه یوازې د رغاونیز اوړدوالي ، د فعالیت سبک او شعري کیفیت پر بنسټ حماسې نه ګڼل کېږي، بلکې په دې دلیل چې داستانونو د هغو ټولنو نړۍ لید منظم کړی چې ورسره پېژني یا ورسره هویتي تړون لري. برخوالې ټولنې د دوی د برخې لپاره حماسې ته د ریښتینو پېښو د ثبت په توګه ګوري. د دې ډول داستان بدلونونه د ټولنې ایډیالوژیکي لار تعقیبوي چې د هغې ریښتینې ارزښت کې برخه اخلي.

د حماسې تر شا د هویتي ډلې تړون ممکن توپیر ولري. د هویت یو مهم ډول چې پر هغې د حماسي خبرو اترو بنسټ اېښودل کېدی شي، سیمه ییز دی. دا اصطلاح څو طبقي، څو ذاتي ترتیباتو ته اشاره کوي چې له یوې څخه د ډېرو ټولنیزو طبقو یا ذاتونو داخلي همغږي په خطر کې وي. حماسې کېدی شي په یوه سیمه کې د یو شمېر ټولنیزو ډلو ترمنځ اصل، اړیکې او حتا شخړې انځور کړي. د موجوده ټولنو دا ډول ټولنیز انځور او د دوی درجه بندي، د دوی حقونه او دندې، کولی شي د ټولنیز ځواک محلي سرچینو ته وفاداري پیاوړې کړي او په حقیقت کې د سوله ییزې همغږۍ قواعد وښیي. یا دا کېدی شي د لویو او کوچنیو دودونو ترمنځ په خبرو اترو بدل شي، هاغسې چې د بریندابیک له خوا یې تشریح شوې ده.

د کیسه ویونکو اوږده لړۍ باید له ډېرو ژوندیو اورېدونکو سره اړیکه ونیسي چې ولسي حماسه تولید کړي. لکه څرنګه چې دا کیسې په تدریجي ډول له حماسې څخه وده کوي، دوی د ټولنې دودونو سره ډېرېږي. دوی ممکن حتا د لوی تمدن لپاره بنسټیزه یا اصلي کیسه شي. مهابهارت (*Mahābhārata* ) او رامایانه (*Rāmāyana* ) د هند دوه لویې حماسې اوس مهال یوازې له دې ډول هندي حیثیت څخه خوند اخلي. هغه پروسه چې په تدریج سره دا ډول حماسې تصفیه کوي او د واکمنې طبقې د چلندونو د درناوي وړ وسیله جوړوي، په هرصورت، د رعیت له ورځني ژوند څخه جلا کولو کې مرسته کوي. کله چې په داسې کارونو کې له لوړ موقف څخه بهر د نظرونو او د لرې پرتو خلکو د چلندونو ترمنځ واټن خورا لوی شي، د ټولنې په دود کې د حماسې لپاره یو نوی ځای پرانیځي چې سیمه ییزې اندېښنې په ښه توګه بیان کړي. د بېلګې په توګه د سیمه ییزو وروڼو په حماسه کې هنرمندان او بزګران مهم شخصیتونه دي، نه ښوونکي، جنګیالي یا د هندي کلاسیک دود زاهدان. دا ډول کیسه کولی شي د مقابلې یوه زړه راښکونکې ټولګه په سمه توګه انځور کړي، ځکه چې دا د یوې پېژندل شوې ستري کیسې د چوکاټ ټکو په اړه د نوي، خو پېژندل شویو موضوعاتو ځای په ځای کولو لارې لټوي.

کیسه د هغو کسانو د پیاوړي ګډ قضاوت لپاره یوه ویانده ده چې د پراخ سیاسي سیستم په حاشیو کې ژوند کوي. دا د هغو کسانو په اړه د دوی نظر بیانوي چې په مرکز کې حرکت کوي. په دې سیمه ییزه حماسه کې د هند سترو حماسو او پېژندل شویو برهمنیک نظریاتو ته اشاره کېږي. په هر صورت هغه څه چې ډېر اغېزناک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، دا دی چې دا ځرګندونې ډېری هندي نورمونه مسخره کوي. مخالفت او انعطاف دواړه د دې حماسې په موضوعي سازمان کې کليدي رول لوبوي. دا رغاونيزې ځانګړتياوې په ډېرو لارو کې د هند له سترو ادبياتو څخه جلا د کيسې په تعريف کولو کې مرسته کوي. په حقيقت کې دا ځانګړې توضيحات د هغې شفاهي ډولونه په بشپړه توګه رنګوي.

په محلي دود، مورفولوژۍ ( بڼه ، شکل و صورت ) او جغرافيه کې د حماسي کيسو دا تطابق لوی دود په دفاعي حالت کې اچوي او د سيمه ييزو هويتونو ځرګندولو ته لاره هواروي. دا ښايي د سيمه ييزو وګړو پر يووالي اغېز وکړي چې ژبنيو، مذهبي، طبقاتي او توکميزو توپيرونو سره ويشلي دي.

**ګڼ هويتونه، ټولنيز او فردي : د سيري حماسه:**

د بيک (Beck) کتنې له سويلي هند په ځانګړې توګه تامل ناډو سره تړلې دي. په ورته ډول، د کرناټکا په حماسو کې د لويو او کوچنيو دودونو مداخله د کناډا او تولو (Tulu) ژبو سيمو کې ښکاره ده. دوی دواړه د معبد په ساحو کې سره ګډوي په هغه ځای کې چې حماسې د ملکيت له رسمونو سره تړلې د بشپړې سپوږمۍ په شپه او په خپله په حماسو کې ترسره کېږي.لا تر اوسه ناچاپ شوې د سيري حماسه ښايي د تولو د حماسو په منځ کې تر ټولو اوږده وي چې د وربځو په کروندو او د ښځو د ملکيت په رسمونو کې ترسره شوې ده، په خپل پلاټ کې د تثليث ټول خدايان لري: ايشورا (شيوا) د تولوناد لپاره د حماسې رامنځته کولو امر کوي. نارايانا (ويشنو) په منظمه توګه د حماسې په ډېرو تکرارېدونکو کرښو کې ځرګندېږي او برميرو (برهما) يو له اصلي کردارونو څخه دی، "يو بې وزله برهمن سړی" چې په دې او نورو اوښتو ځېرو کې د الهي ارادې او قضاوت استازيتوب کوي. بيا هم حماسه د دې خدايانو په اړه نه ده، حتا که د دوی عمل د پېښو جريان ټاکي. دا صحنه د ضعيف نارينه او پياوړو مېرمنو له خوا نيول شوې چې د مورواکۍ لوبيزې ډلې پېژندنه منعکسوي، بنټ د حماسې اوسنی "مالک". هيروينه يا اتله د نرينه واکمنۍ او د ميراث د پېچلو قواعدو قرباني ده. بيا هم د طبقې پېژندنه تر ټولو مهمه مسله نه ده. په حقيقت کې تر (70) څخه زياتې مېرمنې چې په کلتوري ګروپ پورې اړه لري او له ۱۹۸۹م راهيسې زموږ د فنلنډي - هندي ډلې له خوا مطالعه شوي د ډېرو قومونو استازيتوب کوي. سيري، د هغې دوه لوڼې او غبرګونې لمسيانې په اروايي ناروغيو ککړو ځورول شويو مېرمنو لپاره د پېژندنې پنځه ډولونه وړاندې کوي؛ يانې دوی د خپلې ناروغۍ له مخې د کلتور د غړيتوب لپاره غوره شوې دي، نه د خپلې قبيلې و طبقې له مخې.

د سنسکرت دودونه په کلتوري ځای کې واکمن دي په کوم ځای کې چې د اصلي معبد د لوی خدای لپاره تنظيم شويو مېلو کې د دريو معبدونو مخې ته حماسې نندارتونونه ترسره کېږي، د بوتا سيمه ييز اتلان د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو سره کلنۍ لیدنه کوي او سیري گروپونه د الهی زېږون د مثالی مېرمنې یادونې ته ځانگړي شوي وي. د اصلي خدای بت "خلکو ته ښودل شوی" دی یا څو ځله د معبد د ساحې شاوخوا ته په درون لاریون کې لېږدول کېږي او بېرته محراب کې ایښودل کېږي. بوتا ته شخصیت ورکوونکي له ټیټې طبقې څخه دي او ممکن هېڅکله معبد ته نه ور ننوځي: دوی د هغه د تخت مخې ته نڅا کوي. د سیري گروپونه د شاوخوا په لړو مقدسو سیمو کې هم پاتې کېږي.

دا څرگنده ده چې ډېر هویتونه یو څه د حماسو او یو څه د نورو وسیلو له لارې د دوو شپو د ملکیت په رسمونو کې ښودل کېږي. د اصلي معبد د ستر خدای په اړه هېڅ حماسه نه ده ویل شوې، خو د هغه له بت سره منظم کتارونه د الهي رتبوي لړۍ یوه پیاوړې یادونه ده. دې پېښې ته د سنسکرت دودونو او د لوړو طبقو د دریځ د تایید په توگه کتل کېدی شي: د مندر سیمې مشر پادري یو برهمن دی چې ډله ییز او مرستیال رسمونه په ډېر مستند ډول ترسره کوي، د مندر په حدودو کې له بوتایانو سره لیدنه او ور باندې پام کوي، خو د ملکیت په لیونتوب کې نه ورگډېږي.

بوتا د کلیوالې ټولنې د هویت جوړښت دی. دا په واضح ډول د دوی په حماسو کې څرگند شوي چې ځینې برخې یې د شخصیت ورکوونکي د نقاب کولو مراسمو په جریان کې د مرستیال ممثل له خوا له خطي روایت نه په نرمۍ سره لوستل کېږي. د کوډگرۍ له یوې صحنې سره د یو لړې شباهت پر بنسټ د دې سندرې یا اواز موخه دا ده چې پر اورېدونکي د اغېز په پرتله د شخصیت ورکوونکي روحیه و مزاج تنظیم کړي. بوتا په ډراماتیکه طریقه یو بل فعالیت ترسره کوي: پینټومیم (د خبرې په وسیله غلې ننداره)، نڅا، د حیرانتیا سندره، لنډ ډیالوگ، د ملکیت د لېونتوب نارې، ټوپونه، خړ لیدل او لړزېدل، له تورې سره د جگړې پېښې یا د شخصیت وروکونکي په لاس کې بله ډیوه. دا ټولې او نورې ځانگړتیاوې د حماسې د کلیدي عناصرو په ډراماتیک تطبیق کې شامل دي، کوم چې مناسب داستان نه دی، خو د کلي خلکو ته یو پیغام دی: د دوی اتل خدای بوتا په پراخه توگه سفر کړی دی، له دې هدف سره بېرته راستون شوی چې په کلیوال معبد ( د ټولو خدایانو زیارت ) کې خپل ځای بېرته ونیسي او په راتلونکي کال کې د کلیوالو هوساینه تضمین کړي. یو څوک ښایي په شالید کې د پخوانیو فیوډالي سیستمونو د اثبات احساس وکړي: د جایدادونو او ځمکوالو شبکه چې په رسمي توگه د ۱۹۷۲م په وروستیو کې له منځه وړل شوې، خو لاهم د کروندگرو په ذهنونو کې د ذهني جوړښت په توگه ژوندۍ ده او په دې توگه د مذهبي او سیمه ییز هویت سرچینه هم ده.

د سیري حماسې په وسیله د هغو عبادت کوونکو هویت یوه څه ډېر انفرادي او درملیز طبیعته وړاندې شوی چې معبد ته له لرې او نږدې کلیو راټولېږي. د دې ټولنیز اړخ چې په داستان کې انځور شوی، نه یوازې په طبقه په ځانگړې توگه په مورواکۍ، بلکې پر اخلاقي ارزښتونو لکه: عدالت، د کورنۍ عزت، رښتینولي، سپېڅلتیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځینه خپلواکي او ازادي باندې تمرکز کوي. په دې مانا یو څوک ښایي د سیري حماسې ته د نسبتا عصري، حتا د فیمینیستې حماسې په توګه وګوري چې د چلند بېلګې وړاندې کوي چې کله ناکله په ورځني ژوند کې د فکر وړ نه وي. ښځینه اتلانې یا لوبغاړې متشد دې نه وي ، خو د مثالي چلند د بېلګې په توګه کولی شي په نورو حماسو (لکه: کوټي و چینایيا Koti and Chennayya) کې تر خپلو نرینه همکارانو څخه ښې وي چې د زړورو جنګیالیو په توګه ښودل شوي دي. د سیري زړورتیا ټولنیز طبیعت لري؛ هغه په ساده ډول د خپل کافر مېړه په پرېښودو سره په خپل نرواک او له اخلاقي پلوه ټیټ چاپېریال کې انقلاب رامنځته کوي، چې په عادي ژوند کې یو نه اوربدل شوی عمل دی. هغه خپل جذابیت او اخلاقي معیار ساتي او د نسبي خپلواکۍ ژوند ته دوام ورکوي چې په دویم واده او د سون (Sonne) په نوم لور زېږون سره اوج ته رسېږي.

د نرینه او ښځینه په نظر دا د ځان بسیاینې او اخلاقي باور یوه ستره کیسه ده ، یوازېنی یو څه ګډود عنصر چې د کړکېچنو سیریانو ( Siris ) د شخصي هویت په اړه په کلتوري ګروپ کې شته دا دي چې د هند ډېرې مېرمنې له کلاسیک ضعف سره مخ شوي او له نازېږون یا وچوالي څخه وېره لري. په حماسه کې د اولادونو نشتوالی څو ځله تداوي کېږي. په ورځني ژوند کې د مېرمنو د ازدواجي ستونزو اصلي سرچینه په ځان د باور نشتوالی ښکاري چې په کورنۍ کې د سختو انساني اړیکو او په پایله کې د اروایي ګډوډۍ او نامطلوب جسمي حالتونه د نازېږون او نورو ګډوډیو لاملېږي.

له دې حماسې سره موږ د هویت د ثبت یوې انتها ته رسېږو، چېرې چې اساسا یوازې یو فرد په ناهیلۍ سره په نړۍ کې د ځای په لټه کې دی او د سیریانو له یوې ډلې سره د یوځای کېدو له کبله ژغورل کېږي. په دې مناسکو کې هغه کولی شي چې خپل ورځني هویتونه ( او ورسره ملګرې ستونزې) لرې کړي او یوه نوې ځانبسیاینه رامنځته کړي چې د سیري ګروپ تر راتلونکي کلنۍ مېلې پورې وغځېږي.

د نورو سیریانو ملاتړ مهم دی، ځکه چې د هغوی د ژوند تاریخونه د ملګرتیا احساس او ډله ییز هویت رامنځته کوي. بیا هم یو سیري تر ډېره د خپل الهي حیثیت سره یوازې دی، وایي به چې په یو پړي پورې ځوړند دی چې د سیري له یوې کلنۍ مېلې بلې ته غځېږي. هغه د دې مراسمو په الهي ځواک او په حماسه کې د هغه شخصیت له اړخه ځان خوندي محسوي چې ورسره یې ځان پېژندلی دی یا غوره ووایم چې هغه د خلکو په نړۍ کې د خپل لېږدوونکي په توګه غوره کړې ده. هغه ممکن د اوږدې مودې لپاره له نورو سیریانو سره ونه ګوري. کله ناکله کېدی شي له یوازیني نرینه کلتوري شخص د سیري زوی سره چې کومارا نومېږي او د سیري ډلې مشر دی، وګوري چې له هغې سره د ستونزو په حل کولو کې مرسته وکړي او په کور او کلي کې یې حیثیت پیاوړی کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ملي حماسه: طبيعي وده يا سياسي جوړښت؟**

له سيمه ييزو، ټولنيزو او انفرادي هويتونو سره په تړاو کې د شفاهي حماسو د دې لنډې سروې په ترسره کولو اجازه راکړئ چې د ثبت بل پای ته په لاس ورو‌ړلو يانې د ملي هويت په اړه حماسو سره پای ته ورسوم. د لويو او کوچنيو حماسې دودونو متقابل اغېز هاغسې چې پورته برينډا بيک ازمايښتې وړاندې کړ، له کليوالي افسانې نه ملي کيسې ته د طبيعي ودې انځور په بنسټيره توګه وړاندې کوي. د لويو حماسو شفاهي او نيمه ادبي سيمه ييزو نسخو دا پروسه د پرمختللي خيال د دې مثالي ډول په پرتله خورا پېچلې کړې ده. د وروستيو څېړنو پر بنسټ د بې شمېره کوچنيو ليدونکو له تمې سره سم د حماسي کيسو ځايي کولو ( سيمه ييزولو ) او پېژندلو خورا لوی رول لوبولی دی. جوته شوې ده چې د کلاسيکو شفاهي کيسو بيا ويل د دوی له اټکل څخه په بشپړ ډول توپير لري. ډېر ځله داسې برېښي چې پر کلاسيکو بېلګو حواله يوازې هغو نسخو ته د مشروعيت ور کولو لپاره وي چې بايد ترسره شي. تر هغې وروسته سندرغاړی او د هغه ټولنه نسبتاً ازاده ده چې کيسه جوړه کړي.

که مهابهارت او رامايانا د هند د ملي حماسو په توګه وګڼل شي، نو موږ بايد په پام کې ونيسو چې دا بيان شايد د پخوا په پرتله اوس د رسنيو په عصري دور کې رېښتيا وي، سربېره پر دې د هندي ژبو او توکمونو پراخه ډولونه، سيمه ييز او نور فرعي کلتورونه، همدارنګه د شته حماسو شمېر او ټولنيز هويتونه تر ډېره دا ډول پايلې مني. په ټوله کې د ملي حماسې مفهوم کړکېچن دی، ځکه چې ډېر ځله دا له ځينو پخوانيو بېلګو سره سم د ادبي مخکښانو له خوا له ځانغوښتې جوړښته پايله نه ورکوي يا د ادبي مخکښانو ډېر ځانغوښتې جوړښتونه له طبيعي ودې او پراختيا پرته د پخوانيو بېلګو پيروي کوي. د ملي حماسې رامنځته کول شاعرانه نه، بلکې سياسي عمل دی.

سترې حماسې دومره توپير لري چې د حماسې د اصلي بېلګې د ټاکنې لپاره هېڅ عيني معيار نه شته. يو ځل چې دا ډول ټاکنه ترسره شي، په هرصورت د حماسې ادبياتو پر پراختيا خپل اغېز ښندي. هومريايي (Homeric) حماسې يوازې د حماسو د جوړښت يوه نسبتاً نادره قضيه ده، خو کله چې اليآد (*Iliad*) ځان د لويې حماسې د بېلګې په توګه رامنځته کړ، د حماسې په اړه د اروپا ټول کلتوري او ادبي فکر له بېلګې سره سم شو.

دا نظر د رومانتيک فيلسوفانو لکه د شليګل د ورونو، هيګل، هيرډر او ورپسې ولف او لچمن له خوا پياوړی شوی و چې د لرغوني يوناني شواهدو پر بنسټ يې د ادبياتو پراختيا په عمومي ډول انځور او د حماسې د تدوين پروسه يې په تفصيل سره تصور کړه. رومانتيکانو حماسه د ادبياتو پيل، د ادبياتو په پيدايښت کې لومړی ژانر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې ډرامه او غنايي شاعري ګڼله. که هومر دومره ژر راڅرګند شوی نه وای او هغه ته منسوبو حماسو د ښو ادبياتو بېلګې نه رغولی، دا ډول نظم نه رامنځته کېده.

د حماسې رامنځته کېدل نه يوازې د ادب د رامنځته کېدو، بلکې د يو ملت د رامنځته کېدو نښه هم وه. لکه څنګه چې هيګل په خپل اثر استيتيک (*Esthetik*) کې ليکلي: " د يو ملت ټول نړۍ ليد و عينيت چې د هغه د عينيت جوړونې په بڼه کې د هغه څه په توګه څرګندېږي چې ربښتيا پېښ شوي دي ، په ربښتينې مانا د حماسې منځپانګه او بڼه رغوي." دا ښايي د يوې ځانګړې ټولنې د "حقيقت سندرې" په توګه د حماسې تر ټولو روښانه لومړنيو تعريفونو څخه وي. تاريخ، نړۍ ليد او هويت سره يو ځای کېږي او د خلکو يوه ډله پر يوه ټولنه، ملت او يا نورو اوړي او د دې پېښې راپور ورکول د حماسې دنده ده.

دا مفکوره وروسته د مارکسيستي ايډيالوژۍ له خوا ومنل شوه او شوروي اتحاد يې د فولکلوريکو شعرونو په پرتله د رومانتيک چلند و ليد پر يو وروستي مرکزه واړوه، ځکه چې روسي بايليني *bylini* (ختيځ اسلاوي دوديز شفاهي حماسي داستاني شعر ) ډېر لنډ شعرونه وو، شوروي پوهان لېواله وو چې حماسه مناسب ادبي ژانر اعلان کړي، نه فولکلوري. بله خوا هغوی باوري وو چې ټول هغه شعرونه د يو ملت حماسه رغوي چې ورته يا يورنګ اتلان لري. په حقيقت کې دې فکري کربښې د يوې حماسې ( او يو ملت ؟ ) شتون د پوهانو په قضاوت پورې تاړه.

**په اسيا او اروپا کې د ملي حماسو سياست:**

نه يوازې د اروپا په پرتليزو مطالعاتو کې د رومانتيکو بېلګو غوره والی شته، بلکې د افريقا او اسيا په حماسو کې هم شته چې لا هم بايد ډېره هڅه وکړو چې ځان يې له لاسبري وژغورو. په هر صورت، د شفاهي او نيمه ادبي حماسو په اړه وروستي ساحوي کار د ډېرو متوازنو څېړنيزو بېلګو په زېږون کې پراخه مرسته کړې ده.بيا هم د ملي حماسې مفهوم په نا اروپايي شرايطو کې هم خپل سياسي جوهر ساتي. جين ايچ. روغاير ( Gene H. Roghair ) وايي، دا د اکيراجو اوماکانتم (Akkirāju Umākāntam) لاسته راوړنه وه چې تر (۷۰۰) کلونوڅخه ډېر لرغونې پالنايوراکاريترا (*Palnāiivīracaritra* ، په ۱۹۱۱ کې چاپ) يې د تيلوګو پر ملي حماسه واړوله.

اوماکانتم، پالنايوراکاريترا د اتلې حماسې په توګه رامنځته کړه چې د تېلوګو وګړو کولای شول په وياړ ورته وګوري. لکه څرنګه چې د نړۍ په نورو برخو کې خلکو خپل تير ستر اتلان درلودل، د تيلو خلکو هم کولی شول خپلو تېرو اتلانو ته وګوري. هغه دا هم په خپله خوښه ثابته کړه چې پالنايوراکاريترا د څوارلسمې پېړۍ د وروستيو او د پنځلسمې پېړۍ د پيل پېړيو يوه تيلوګويي شاعر سريناتويو (Srīnāthu u) له خوا ليکل شوې ده. دا حماسه د تيلوګو ژبو وګړو لپاره مهمه وه چې د تيلوګو هويت يې پخوا په محلي بېلګو کې لټاوه چې پر دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د بهرنيو واکمنو د چلند د بېلګو لاســبرى څرګنداوه. د ليکوالۍ مســاله هم ورته په هماغه کچه مهمه وه. د ســرينــاتويو د اثر پــه توګه د پالنايوراکاريترا رامنځته کول د تاريخپوهانو او د ادبي شــخصــيتونو په نظر کې د حماسې ارزښت لوړ کړ، خو په خپله د دود له ريښو څخه يې هم پام پر بله واړوه.

په دې او نورو کيسـو کې د ملي حماسـو د منشـاء په اړه څلور شيان ځانګړي دي: لومړی، داسې فردي عقل شـته چې په يوه ځانګړې تاريخي شـېبه کې د يوې نړيوالې بېلګې په پيروۍ د خلکو اړتياوې تعريفوي. دويم، د لرغوني اصل شاعرانه مواد شته. درېيم، د حماسې د ترلاسه کولو او تفسير لپاره ادبي مخکښان شته، څلورم ، دا ټوله پروسـه له يو چاپېريال نه بل ته د دود د لېږد په مانا بشـپړ توپير لري. د کلتوري مخکښـانو په لاس کې په طبيعي توګه د ودې په حال کې حماسي دود د سمون او تفسير له پروسې تېرېږي. هغه څه چې له دې پروسې راوځي د ټولنې د هويت يوه عالي کيسـه ده چې سـمونګرو او مفسـرينو له پېټنځايونو ، لاس کښـلو سـرچينو او ژونديو شفاهي چاپېريالونو څخه د دود د لېږد پر وخت د ټولنې وروستي استقبال ته په ذهن کې لرل.

دا يو داسې استقبال دى چې د ملي حماسې زېږون په نښه کوي. د منونکې ټولنې له تاييد او لېوالتيا پرته، د ملي حماسـو د رامنځته کولو بهير ناځاپه پای ته رسـېږي او له ياده وځي. يوازې هغه مهال چې ټولنه د خپل کلتوري هويت د لېږدونکې په توګه د حماسې هرکلى کوي، د خپل اصل، ټولنيز تاريخ، اسطورې، د ارزښتونو او هيلو وروستۍ ټولګې په توګه يې د "حقيقت سندره" مني چې په تېر پورې تړلې، خو په حقيقت کې راتلونکې ته رسېږي، يوازې په دې حالت کې يې ځای د يوې ملي حماسې په توګه تثبيتېږي. د ليږد او بدلون د دې پروسې د نه منلو وړ بيه تر پام لاندې حماسي شعر د دوديز چاپېريال او په لوستي، تحصيل کړي او ډېر ښاري چاپېريال کې د حماســې نوي ژوند ترمنځ مخ په زياتېدونکې واټن دى. حماســه له څنډې نه مرکز ته ليږدول شــوې ده: د سيمه ييزو هويتونو منعکسوونکې حماسي متنونه د ټول ملت لپاره يو نړيوال سمبول ګرځېدلی، همدارنګه د هغو سيمو او خلکو لپاره چې هېڅکله د حماسې پر شفاهي بڼه نه پوهېږي.

د ملي حماسې د زېږون په اړه دا داستان يوازې د هغه څه يوه بېلګه ده چې ما د فولکلور پروسې په نوم ياده کړې ده. دا داســتان پر ټولو هغو حماســو له بدلون پرته د تطبيق وړ دی چې د ټولنيز يا ملي دريځ ادعا لري. د دې توپيرونکې ځـانګړتيـاوې پـه اســيـا او اروپا ، تيلوګو او همدارنګه په فنلنډ کې باوري دي. د فنلنډي کليوالا Kalevala (۱۸۳۵) مولف، اليـاس لونروت هغـه څـه وکړل چې اومـاکانتم به وروســته کول: هغه د خپلو خلکو اړتياوې د حماســه جوړونې نړيوالو بېلګو نه په پيروۍ تعريف کړې. هغه همدارنګه هغه کار وکړ چې فرض کېده سريناتويو ترسره کړی دی: هغه پخواني شعري مواد تر يخوا چاپ شوي په يو ستر چوکاټ کې راټول کړل. په دې کار کې هغه يوازې نه و، په دې مانا چې هغه د يوه داســې ادبي او ســياســي شـخصـيت تر اغېز لاندې و چې د پروژې د بشـپړاند غوره شـخص په توګه د لونروت تر څرګندتيا وړاندې يې د ملي حماسې لپاره هيلې لرلې. دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي مخکښــانو هرکلی و چې کلیوالا یې د فنلنډیانو د کلتوري هویت پر یو مهم ســمبول چې لا هم دی، واړوه. یوازې ډېر وروسته، کله چې حماسه د فنلنډ د یوه تعلیمي سیسـتم برخه وګرځېده چې حتا د هغې د ظهور په وخت کې نه و ، فنلنډیانو په پراخه کچه کلیوالا وپېژندله. له اصـلي شـفاهي شعري کلتورونو څخه واټن د پام وړ و: د فنلنډ ختیځ پولې ته نږدې کیریلینیانو (Karelians) او فنیانو (Finns) هغه شعرونه ساتلي وو چې له هغې څخه یې حماسه تالیف شـوې وه، د فنلنډ د پلازمینې د کلتوري ښـاري اشـرافو له ژوند څخه خورا متفاوت ژوند درلود. په پای کې شفاهي شعر په خپل چاپېریال کې په مړاوې کېدو پیل وکړ، خو د فنلنډ په لوستي کلتور کې د هغې دویم ژوند تر ډېره د حماسې له لارې وغځېده.

**د یوه ادبي لمس ارزښت: د بېلګو ترمنځ توپیر؟**

په هر صـورت، د تیلوګو او فنلنډي حماسـي شـعرونو د ملي کېدلو پروسـې په اړه د سیاسي داستانونو ترمنځ توپیرونه هم شــته. له هغو څخه یو یې له یوه ادبي شــاعر ســره د پالنایوراکاریترا اړیکه ده. د اروپایي اورېدونکو لپاره چې په لومړنیو ( نالوســتو ) ریښــو کې خپل هویت لټوي، دا ډول اړیکه په اتلسـمه او نولسـمه پېړۍ کې د رومانتیزم د عروج پر وخت د تصـور وړ نه وه. موږ ښـایي دلته د شـفاهي او ادبي شـعرونو په اړه د اسـیا او اروپا د لیدلوریو ترمنځ یو بېلګیز توپیر ولرو: هغه څه چې په اروپا کې په چټکۍ سـره له یو بل جلا شوي، په اسیا کې د کلتوري میراثونو د ریښـتینو تعامل کوونکو او همکارو واحدونو په توګه منل شـوي دي. د سـریناتویو د ادعا شـوې ونډې ماهیت ته له پام پرته، څرګنده ده چې دا حماسـه هم د خطي نسـخو او هم د شـفاهي فعالیتونو له لارې ژوندۍ پاتې ده او هغه وخت خورا ډېره ارزښـتناکه شـوه چې کله یو مشـهور شـاعر د یوه ناپېژانده شـاعر تر شـا راڅرګند شو.

په اروپا کې داسـې نه ده. د الیاس لونروت یو له اصـلي اندېښـنو څخه چې مخنیوی یې باید وشي هغه ډول نیوکې وې چې څو لسـیزې وړاندې یې د مکفرسـن (Macpherson) د اوسـیان (*Ossian*) شعرونه له منځه وړي وو، په دې مانا چې په حقیقت کې تالیف کوونکي حماسې ویلي وې او ډېرې یې لیکلي وې. لونروت د نړه ادبي شـعر په جوړولو کې هر ډول ښکېلتیا کلکه رد کړله او په ریښتیا همداسې وه. د حماسې یوازې درې سلنه کرښې د هغه په قلم دي چې ډېری یې په پیل او پای کې دي چېرې چې د حماسـه ویونکي غږ اورېدل کېږي. لونروت هغه کرښې او عبارتونه چې له شفاهي شعرونو څخه یې غوره کړي د محافظتي ډال په توګه کارولي دي: تر هغه چې د هغه مطالب له نالوسـتو شـفاهي سـندرغاړو څخه راوځي، نه شـو کولای هغه د ادبي تخلیق یا د شـفاهي سـرچینو په جعل تورن کړو. حقیقت په منځ کې یو ځای پروت دی: حتا که په خپله کرښې اصلي وای، ترکیبونه یې د لونروت تر لیکني قلم څخـه ډېر وو. نوموړي دغـه طریقه په دې ډول توجیه کړه چې د پخوانیو متني بېلګو پر بنسـټ د شـعرونو د دورونو او نویو جوړښـتونو د رامنځته کولو پر مهال یې یوازې هغه څه کول چې نالوسـتي سندرغاړي ورته چمتو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لونروت ځان په دوو رولونو کې لیده: یو هغه سمونګر و چې د پیسیسټریټانو (Peisistratean) په دوره کې د هومري متنونو له فرضي سمونګرو سره د پرتلې وړ و، ولف هم دارنګ استدلال کړی، بل د لرغوني شفاهي شعر معاصر سندرغاړی و .لونروت د کیریلینیانو، فنلنډیانو او انګریانیانو د حماسي شعرونو د وروستیو سندرغاړو وسیله شو. د خپل عروج او ابتدایي زوال په وخت کې هغه د دوی شاعرانه سیستمونه داخلي کړل، شایستګي، څو شکله فرمان او شاعرانه قواعد یې رامنځته کړل چې بالاخره په فرد پورې تړلي او نه یوازې د یوې سیمې، بلکې د ډېرو سیمو استازی و . د هغه په لاسونو کې راټول شوي متنونه لومړی بې کوره شول، یانې له خپلو اصلي شرایطو او متنونو جلا شول، خو وروسته د هغه په شخصي دودیز سیستم کې یوځای شول. د دې سیستم شتون او پراختیا د حماسو د پنځو نسخو له لارې مطالعه کېدی شي چې لونروت د کلیوالا پروسې، د عبارت د محدودې مانا په توګه (هونکو ۱۹۸٦)، له ۱۸۲۸ څخه تر ۱۸٦۲پورې رامنځته کړې دي. د یوه پنځګر شاعر په توګه د متوسط استعداد درلودونکی و، خو د شفاهي حماسي سندرغاړو لپاره د یوې وسیلې په توګه د پام وړ و. بیا هم دا د هغه لید و ، نه د هغوی چې په کلیوالا کې ترسره شو. د هغه تخلیق د ویلو (سندریز) نه و ، بلکې د لوستلو و. هغه یو کتاب غوښته چې " د هومر نیم " سره برابر وي.

اسیایان په دې نظر دي چې د حماسې په اړه د رومانتیکې نظریې پلویانو (مکفرسن، لونروت او نورو) په اړه بحث ښایي اغېز ونه لري. د مکفرسن د پېژندلو ښه کرښه چې ډېرې واقعي کرښې یې په اوسیان ژبه کې ولیکلې، خو د پخوانیو سرچینو پر اساس یې نمونه کړې، لونروت چې له اصلي شفاهي کرښو څخه یې تړونکی رامنځته کړ، خو په ورته وخت کې یې بیا یوه یوځای کوونکی حماسي لیدلوری وړاندې کړی چې کېدی شي بې ارزښته ښکاره شي. که پایله په دواړو حالتونو کې ښه حماسي شعر وي، دواړه د ملي ادبي اتلانو په توګه پېژندل شوي. بیا هم لونروت د ملي اتل په توګه منل شوی او مکفرسن رد شوی: کلیوالا د ملي سمبول په توګه ژوندی پاتې کېږي، په داسې حال کې چې د اوسیان شعرونه د ادبیاتو تاریخ پورې اړه لري، که څه هم دواړو د دولسمې پېړۍ د لینسټر د کتاب د کیسو په لېست کې د ضمیمه شویو قاعدو پیروي وکړه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**